د زیاتو معلوماتو لپاره:
اندی ام.ای.کمپبیل
د افغانستان د دفتر رییس
۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org

NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# په افغانستان کی د ټاکنو وروستی معلومات

**د افغانستان د ولسی جرگی ټاکنی په ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۰**

**۱۰ ورځي وروسته د اختره :28 sep 2010**

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرگی د ټاکنو له بهیر څخه د څارنی په موخه څارنیز ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیرونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح گمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شی. AfghanistanElectionData.org :

## د نوماندو استازيِ د افغانانود رای اچوني څخه لیدنه کوي
## د ټاکنو خپلواک کمیسون ۳۷۰۰۰۰ تنه دنوماندو استازی په رسمی توگه پیژندلي

*ولسی جرگي* ته نوماندودټاکنو په ورځ د ټاکنی د بهیر څارلو لپاره زیات شمیر استازي گمارلي وو. دټاکنو خپلواک کمیسون ددی تصدیق کوی چی دنوماندو استازی د اشتباهاتو دتشخیص مهم اړخ دی، او همدا رنگه دزیاتو نوماندانو په اند دوی د درغلیو دمخنیوي په وړاندی مانع بلل کیږی. د ټاکنو په لور روانو اونیو کښی کمیسون ۳۷۰۰۰۰ تنه دنوماندانو استازي په رسمي توگه وپیژندل چی ۸۸۰۰۰ ښځینه هم پکښی شاملی وی. په روان بهیرکی این ډی ای ۳۶۰۰۰ تنه د نوماندانو استازی د ټاکنودورځ لپاره وروزل چی ۱۰۰۰۰



*په افغانستان کښی د ټاکنو په ورځ د نوماندو استازي او د ټاکنو دخپلواک کمیسون غړی نړدی نه د رای ورکوني بهیر څاري*

زیات شمیر استازی به په رای مرکزونو کی تر سترگوکیدل، حتی تردی چی ځینی وخت به یی شمیر درای ورکونکو څخه هم زیات اټکل کیدو. دان ډی ای دکتونکو له خولی: د استازو د ډولو ځینی ځوانان پدی اند دی چی سره د ځینو نمگړتیاوو د تیر کال په پرتله دا یو مثبت گام دی، اوپدی بهیر کښی دځوانانو په منځ کی د گډون لیوالتیا گورو. (پاتی برخه دوهمه مخ)

## دټاکنوخپلواک کمیسون قسمی پایلی اعلان کړی



*دټا کنوخپلواک کمیسون ریس فضل احمد معنوي د رای شمیرني به بهیرکښی د درغلیو دمخ نیوو اټکلونو اعلان کوی*

د ټاکنو خپلواک کمیسون د خوست د څو څو مرکزونو رای ، ددرغلیو د شواهدو له امله باطلي اعلان کړي. ددی سره کمیسون د ۱۲۰ نورو مرکزونو رای چی درغلۍ پکښی شوی وی هم بشپړي کړي او دنورو داسی پریکړو کولو امکان هم شته.

دغه لست د شکایاتو د کمیسون د مامورینو اود نړیوال او داخلی کتونکود راپورونو پر بنسټ چمتو شوي. د ټاکنو خپلواک کمیسون یو ټیم جوړکړی تر څو دوی د ټاکنود توکو سوچه والي تصدیق کړي- او هغو مرکزونو ته ځانگړی پاملرنه وکړی چی دامسایل پکی مطرح دی ترڅو د بی نظمی لامل تشخیص کړی. د سویلي ولایت خوست په تیرزی ولسوالۍ کی د پنځو څخه د دوو مرکزونوټولي رای باطلی اعلان شوي. درغلیو ته پام سره ، دټاکنو خپلواک کمیسون هغه یو مرکز ته چی رایی یی د څلورومشخصو کاندیدانو په گټه استعمال شوی وو، او دوه نورمرکزونه چی د ولایت په مرکزی کی دی ، کومه خاص پاملرنه ونکړه.دټاکنو خپلواک کمیسون د ۷ ولایتونو د ۱۹ نورو مرکزونو د رای بیا شمیرنه اعلان کړه.

د اپریکړه هغه وخت وشوه چی ناظرینواو د ټاکنو خپلواک کمیسون ته د بیا شمیرنی څخه وروسته د پایلو په فورمو کی مشکل ښکاره شو.

د ټاکنو خپلواک کمیسون دشمیرنی مرکز په کابل کښی ٪۹۹.۷ د مراکزو څخه هغه کڅوړي تر لاسه کړی په کومو کی چی د پایلو او د تطبیق فورمو شتون درلود.

نوموړي کمیسون وایی چی دوی د ۹ ولایتونو لمړنمی جزی پایلي د خپل ویب پاڼی له لوری خپری کړی دی.

د ټاکنو خپلواک کمیسون د ۸۱ نوماندان د شکایاتو کمیسون ته وروپیژندلی کومو چی خپل د کمپاین د مالي راپور فورمي په ټاکلی وخت ندی سپارلي.

## ***د نوماندو استازې د افغانانود رای اچونې ځخه لیدنه کوي( دلمړی پانی پاتی برخه)***

ددرغلیو اندېښنوپه خاصه توګه لوالتیا ځانګړي کړی وه د بلخ ولایت څخه یونوماند چی ۱۰۰۰ تنه استازی یی ګمارلي وو وایی چی ددی د مخنیوی یواځنی لاره همدا د استازو ګمارل دی. پدی ولایت کښی یو بل نوماند وایی چی ده خپل استازی د ناامنه سیمواوسیدونکو څخه ټاکلی ترڅوهلته هم کتنه وکړای شی. دا چی پدی سیمو کی زیات شمیر نوماندانو ونشو کړای د امنیت د نشتوالی له امله کمپاین وکړی نو پدی سیمو کی ددرغلیوکیدول اندیښنی هم ورسره مل وی. داچی د سیمی په کچه د استازو پراخه شتون د اشتباهاتو د مخنیوی یو بیلګه وګنل شوه، د ټاکنو په ورځ د ځینو کتونو وروسته دا موضوع هم د یو ازمیښت په بڼه رولاړه شوه.ځینو یی د خپلی څارنی دندي درای مرکزونو په اړه کول، اوځینویی په دوامداره توګه خلک تهدیدول. د مزار شریف نه د ټاکنو د خپلواک کمیسون یو مامور وایی چی ځینو د نوماندو استازو په مرکزونو کښی مشکل جوړولو، او مامورین به یی دی ته اړ ایستل چی مرکزبند کړی او صندقونه قرنیتن کړی. نوموړي وایی چی دغه کار به هغه وخت واقع کیدو چی کله به دسیال نوماندانو رای زیاتی شوی او دنورونوماندو استازو به پداسی عواملو لاس پوری کړ. خو ن




***په افغانستان کښی ملی دموکراتیک انستیتوت ۳۶۰۰۰ تنو د نوماندانو استازو ته روزنه ورکړه. لاندی د هرات ولایت د روزنی***

نوموړی اضافه کوی چی دی پدی وتوانیدو ترڅو ددی ټولو مشکلاتوسره لاس او ګریوان شی او د مرکزونو د ټرلو مخ نیوی وکړی. همدا رنګه د این ډی ای کتونکو د نوماندانود استازو یو ګروپ لیدلی وو چی یوتن ځوان یی تعمیر ته دننه تلو منع کولو، نوموړی ځوان څخه دغه ګروپ راتاوو شوی وو، او دده د رای کارت ته یی په ځیر ځیر کتل تر څو د امنیت ځواکونو لخوا ورته وویل شول چی خوشی یی کړی. سره ددی چی دنوموړی ځوان عمرد۱۸ کلونو کم ښکاریدو. استازو ته ددی اجازه نه وه چی د رای وروکونوکو سره پدی اړه خبری اتری وکړی ، داځکه چی دا مسله دټاکنو چاپریال متآثره کولی شو. دفاریاب څخه نړیوال مامور د یوسیال کاندید د پلویانو او دنوماندو د استازو ترمنځ دنښتی راپور ورکوي. نوموړی مامور وایی چی د نوماندو استازي دمسلح ډلو غړی دی چی د نوماندوسره اړیکی لری، البته ددوی موجودیت یو بڼه تهدید اټکل کیدلی شي.

### مهم ټکي: د ټاکنو د رسنیو کمیسون

د این ډی ای سره په مرکه کښی ځینو مسلکی ډلو خپلی څرګندوونی پداسی ډول کړی دی: د افغانستان د ټاکنو د رسنیو کمیسون چی دسپتمبرپه ټاکنو کښی رسنیود نظارت او د شکایاتو په اړه د قانونی پریکړو مسولیت لری، د ۲۰۰۹ کال ټاکنو په پرتله ښه ندی ځلیدلي. د رسنیو کمیسون ،د ټاکنو د خپلواک کمیسون لخوا پدی دنده ګمارل شوی وو، تر څو درسنیو قانون څخه سرغړونو ته پاملرنه وکړی. په ۲۰۰۹ کال کی نوموړي کمیسون ۴۷ شکایتونه ترلاسه کړی وو، خو سږ کال دغه شمیر یواځی ۱۱ شکایتونوته ورسید.

د کتنو په نتیجه کښی د کم شمیر ترلاسه شویو شکایتو لامل ،د ټاکنو د کمیسون لخوا د عامه پوهاوی پروګرامونو کمښت او نه ارزښت دی. د درسنیودکمیسون د یو تن مامور له خولی: تیرکال به د رسنیوکمیسون وار په وار خبری غونډی درلودی اوخبریالان به یی د خپلو فعالیتونو په اړوند خبرول، سږ کال په مجموع کی څلور ځلی خبری غونډی جوړی شوی. درسنیو د کمیسون ریس نذیر ځوی وایی چی دی ته ضرورت نه وو چی د تیرکال په څیر مونږ خبری غونډی رابللی وای، دا ځکه چی دوی ددریو اخبارونو او دټاکنودخپلواک کمیسون د ویب پاڼی دلاری خپل دنظارت راپورونه خپاره کول. ټول هغه ۱۱ شکایتونه چی ترلاسه شوی وو، د کابل مربوط وو یواځی یو یی د خوست اړوند وو چی د رسنیو کمیسون پری قانونی پریکړی وکړی. اوس محال دټاکنو درسنیو کمیسون د ۹۲ هغو شکایتونو په څیړلو کی بوخت دی کوم چی د رسنیو د( چوپیتا په پړاو کښی شوی وو، دا هغه وخت پیښ شول چی د ټاکنوڅخه دوه ورځی د مخه د رسنیو په خپرونو د نوماندانو د کمپاین او ددوی په اړه د یادونه څخه ټولی رسنۍ منع شوی.. .

ددی شکایتونو په ترڅ کښی یو شکایت یی د هیواد تلویزون کوم چی د ولس مشر کرزي دخپلوانو دی، هم شامل دی. د ټاکنو څخه دوه ورځی د مخه احمدولی کرزي د ولس مشر کرزيِ ورور د هیواد تلویزون په مخ راڅرګند شو او خلک یی دی هڅول چی تاسی دریو خاینو نوماندانو ته رای مه ورکوۍ کومو چی د ولس مشرۍ په ټاکنو کښی د عبدالله عبدالله پلوی کوله، کله چی دا خبری خپری شوی، دنوموړو دریو نوماندانو عکسونه په پرده راڅرګند شول.

د ټاکنو رسنیو کمیسون پنځه تنه کمشنران او یو ټاکل شوی ریس لری، چی د غه ریس د نوموړو کمشنرانو لخوا ټاکل شوی دی.، داچی درسنیو کمیسون د ټاکنو دکمیسون یوه برخه ده، دوی ځانګړی بودیجه نلری، او نه هم د قانون د پریکړی صلاحیت لری او همدا ډول ددوی صلاحیت محدود دی.

د مثال په توګه، کله چي د ټاکنو خپلواک کمیسون تصمیم ونیو چي د خپرونو د قانون څخه یو بند چی ژورنالیستان په ټاکنو کی له نوماندۍ څخه منع کوی حذف کړی ، د ټاکنو د رسنیو کمیسیون سره مشوره نه وه کړی او یا یی دوی ته اجازه نه وه ورکړی ترڅو اعتراض وکړی.

**ملی دیموکراتیک انستیتوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمینارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.**